## مطلب اشنا

مړاوی ګل په لارکی پروت وه
دهر چاتتو څپلی
نه نښه وه نه مو سکاوه
دنظر نه وه لویدلی
نه بو ستان وه نه وږمه وه
په ګردو کی ړو غیدلی
نه دښانګی په سرناز وه
نه دچا په سر ټومبلی
هسی بل شانته د وران وه
دمرګونو کورته تلی
ماویل شهزاده ولی ؟

آخـرغـواړي څــه نيکبـــختو
چـــي و هـــي مفـتي کـــکري

چـي نـه خپله سره جـوړ شـــوي
نـــــه دبـــل منـــــي خـبري

ور کـــاوي چـــي دچـــاراشي
خـــود بـــه کـړي داســي و نزدي

کـــبرياڅ چـــي لـــه ويـــريم
پـــرون پـــري شـوډلي بېرې

پخـــــپل کور کي مو ځاي نه ؤ
لـــه نـــژدي خـوښ وي په ليري

چـايـو ګـام کــړه داګـام لار
څـــو ك راواوښـــتل پـــه تري

اوس نـــخري دپاچاهـــي کړي
ورانـــــوي ســـمي خـــبري

نـــه ئـــي ګرم ځـــکه مغروړو
درســـره چـــي دي لـــښکري

مګـــرواوري پـــه وطن مو
چـــي بـــل کـــړي اوردسري

دابـــه پاي ســـوزي دتاسو
پګـړي ګانـــي بر جــــوړي

## خپل کندهار چې هېر نکړې

لاړې چې ریاض ته ته ګرانه حجاز مخکې دې
ګوره په غوغاکې ئې داسفر چې هېر نکړې
شته ده پر یماني پکې رنګ ئې دفر قان واخله
ورک ئې ریالونه شه زیرو زور چې هېر نکړې
کله ملتزم کې چې دوه لاسه کچکول په لاس
ودرېږې دنیازپه دود ماوتر چې هېر نکړې
ته چې دمظلوم ملت هلته کې عرض ورانده کړې
شور کې دسلګیودې خپل ټبر چې هېر نکړې
اوښکې دحسرت چې دې ښکته په ګریوان شولې
ستا په ننګ یتیم زویه درپه در چې هېر نکړې
لاړچې شې حجازته ته سپین دآخرت کالې
واغوندې سبحان الله داآختر چې هېر نکړې
ورشه لرمیناته خو زما داسمعیل ذبیح
ګوره! په تنکې غړې تیزخنجر چې هېر نکړې
قصر که شیفر وینې زړه به ترې نه جګ ساتې
کړې که دجنت هوس داخطر چې هېر نکړې

